د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

گڼه: 473

(06 - 10 ثور 1404 هـ ش)

## د هند او پاکستان شخړه او پر افغانستان يې اغېزې



دا نشریه د افغانستان او سیمې د مهمو سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیزو پېښو د تحلیل اوونیزه خپرونه ده چې د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انگلیسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

## په دې ګڼه کې لولئ:


- د هند او پاکستان شخړه او پر افغانستان يې اغېزې ................................................. 3
- د پهلګام پېښه او د هند او پاکستان پر دوه اړخيزو اړيکو يې اغېزې .................................... 3
- د انډوس د اوبو تړون ځنډېدل ................................................................... 4
- ايا هند به پر پاکستان بريد وکړي؟ .............................................................. 6
- پر افغانستان د دې شخړې اغېزې ................................................................ 7
- پايله .......................................................................................... 8
- وړانديزونه ..................................................................................... 8
- سرچينې ........................................................................................ 9


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## د هند او پاکستان شخړه او پر افغانستان یې اغېزې

### سریزه

د هند او پاکستان د رامنځته کېدو راهیسې د دوی ترمنځ ګڼ شمېر جګړې ترسره شوي دي. د دوی ترمنځ لومړنۍ جګړه په ۱۹۴۸ز. کال کې د کشمیر پر سر ترسره شوه چې د اوربند او د کنټرول کرښې (Line of Control(LOC) په رامنځته کېدو سره پای ته ورسېده. دویمه جګړه په ۱۹٦۵ز. کال کې ونښته چې ۱۷ ورځې یې دوام وکړ او لامل یې کشمیر و چې بیا د شوروي اتحاد او متحده ایالاتو په منځګړیتوب دا جګړه هم پای ته ورسېده. بله جګړه په ۱۹۷۱ز. کال کې رامنځته شوه چې دې جګړې ته د بنګله دېش د ازادۍ جګړه هم ویل کېږي. دا جګړه د شملې د تړون پر بنسټ پای ته ورسېده او په دغه جګړه کې هند د پاکستان ۹۰۰۰۰ عسکر هم یرغمل کړي وو. بله جګړه د کارګل وه چې په ۱۹۹۹ز. کال کې رامنځته شوه، دغه جګړه د پاکستان له لوري پر کارګل سیمه د برید له امله ونښته. د دې ترڅنګ د سیاچن جګړه، په ۲۰۰۱ز. کال کې د هند پر پارلمان د برید له امله شخړه، په ۲۰۰۸ز. کال کې د ممبۍ برید له امله شخړه، په ۲۰۱٦ز. کال کې د هند له لوري پر پاکستان د یوري برید له امله شخړه، په ۲۰۱۹ز. کال کې د هند په پلوامې سیمه کې پر هندي عسکرو برید چې ګڼ شمېر هندي عسکر په کې ووژل شول او بیا د همدې پېښې د غچ اخیستلو په موخه د هند له لوري د پاکستان پر بالاکوټ برید[1]، هغه پېښې دي چې په تېر کې یې د هند او پاکستان ترمنځ ستونزې او سیالۍ رامنځته کړې دي. په دې برخه کې تازه پېښه د ۲۰۲۵ز. کال د اپریل پر ۲۲مه نېټه وشوه چې د کشمیر په پهلګام سیمه کې چې د هند تر کنټرول لاندې ده څو وسله والو پر سیلانیانو برید وکړ او نږدې ۲٦ کسان یې ووژل. هند د دې برید پړه پر پاکستان واچوله، خو پاکستان په دې پېښه کې لاس لرل رد کړي دي. د کشمیر مقاومت ډلې د دې پېښې مسؤلیت منلی دی، خو هند وایي چې د دې ډلې تمویلونکی او ملاتړی پاکستان دی.[2] په پهلګام کې پر سیلانیانو دا لومړی برید نه دی بلکې د ۱۹۹۵ز. کال د جولای پر څلورمه نېټه شپږ بهرني سیلانیان له پهلګام څخه تښتول شوي وو. په دوی کې دوه امریکایان، دوه بریتانویان، یو جرمنی او یو ناروېژي وګړی و. د "الفاران" په نوم یوې ډلې د دې پېښې مسؤلیت پر غاړه اخیستی و او د حرکت الانصار د وسله والې ډلې د مشر مولانا مسعود اظهر د خوشې کېدو غوښتنه یې کوله. څلور ورځې وروسته، یو امریکایی سیلانی د تښتوونکو له منګولو وتښتېد، په داسې حال کې چې څو اوونۍ وروسته، د یوه ناروېژي سیلانی سر پرې شوی جسد وموندل شو چې په سینه یې د "الفاران" نوم کښل شوی و. تر نن ورځې پورې د نورو څلورو سیلانیانو په اړه هېڅ خبر نه دی ورکړل شوی، که څه هم داسې راپورونه وو چې څلور واړه وژل شوي دي.[3]

## د پهلګام پېښه او د هند او پاکستان پر دوه اړخیزو اړیکو یې اغېزې

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

لکه څنګه مو چې سریزه کې یادونه وکړه هند او پاکستان له تاریخي پلوه په جنوبي اسیا کې دوه اتومي سیال هېوادونه دي چې وخت ناوخت یې ترمنځ دا ډول شخړې رامنځته کېږي او همدا شخړې د دې لامل کېږي چې د دې دوه هېوادونو ترمنځ سیالۍ لا پیاوړې او اړیکې یې خرابې شي، خو په ورستیو څو کالونو کې د هند اقتصادي پرمختګ او د پاکستان وروسته پاتې والی د دې لامل شوی چې هند پر پاکستان برلاسی شي، هند د نړۍ پنځم اقتصادي قدرت دی چې دغه قدرت یې له پاکستان څخه لس ځله زیات دی. همدارنګه د نظامي وسایلو له اړخه له اوکراین وروسته هند د نړۍ دویم او پاکستان پنځم ستر واردونکي هېوادونه دي.[4] له ۲۰۲۰ز. کال راورسته کله چې د هند او چین ترمنځ د همالیا په غرونو کې پر پوله نښته رامنځته شوه، هند د پاکستان پر ځای خپل پام تر ډېره د چین پولې ته واړوه او هڅې یې پیل کړې تر څو چین سره خپلې ستونزې یا حل او یا هم له بېلابېلو لارو څخه یې تر فشار لاندې ونیسي او دا ډول سیاست د دې لامل شوی و چې د هند او پاکستان ترمنځ ستونزې د یو څه وخت لپاره غاړې ته شي، خو اوسنۍ پېښې دا اړیکې یو ځل بیا خراب وضعیت ته یوړې او حتی د مخامخ جګړې امکان یې رامنځته کړ. هندي چارواکو د اپریل پر ۲۵مه نېټه رسنیو ته ویلي چې د کشمیر په پوله د هندي او پاکستان پوځیانو ترمنځ مخامخ نښته رامنځته شوې او دواړو لوریو پر یو او بل مخامخ ډزې کړې دي.

د دې پېښې وروسته د هند پر لومړي وزیر نریندرا مودي سخت داخلي فشار دی او خلک ترې د غچ اخیستلو غوښتنه کوي او د همدې لپاره مودي د دې پېښې په غبرګون کې لاندې پرېکړې کړې دي:

1. له پاکستان څخه یې هندي ډېپلوماټان بیرته غوښتي؛
2. په هند کې یې له پاکستاني سفارت نه ګڼ ډېپلوماټان وشړل؛
3. پرېکړه یې وکړه چې ټول پاکستاني وګړي به له هند نه وځي، زړې ویزې یې بلاک او نوې سارک ویزې پرې قطع شوې او د همدې پرېکړې د عملي کولو په موخه یې اتر پردیش کې د ۱۸۰۰ پاکستانیانو د نیولو او شړلو لړۍ پیل کړې چې ۱۵۰ یې تر اوسه شړل شوي او ۵۰ میرمنې له ماشومانو سره ترې ایساري کړای شوې دي؛
4. له پاکستان سره یې اټاري او واګه پولې وتړلې؛
5. او له پاکستان سره یې د انډوس د اوبو تړون ځنډولی دی.

### د انډوس د اوبو تړون ځنډېدل

د هند له لوري د پاکستان پرخلاف یوه مهمه پرېکړه هغه د انډوس د اوبو تړون ځنډول دي. د انډوس د اوبو تړون( Indus Water Treaty(AWT)) په ۱۹۶۰ز. کال کې د نړیوال بانک په منځګړیتوب او ضمانت د دواړو هېوادونو ترمنځ لاسلیک شوی چې د دواړو لوریو ترمنځ د اوبو جریان تنظیموي،[5] د دې هوکړې له

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

مخې د انډوس اوبو حوزې پر درېیو ختیځو سېندونو راوړي، بیاس او ستلج د هند حق منل شوی او د درې لویدیځو سیندونو، سند، جهلم او چناب د اوبو اتیا سلنه برخه پاکستان ته ورکړل شوې ده. پوښتنه دا ده چې ایا هند کولای شي چې د دغو سیندونو اوبه پر پاکستان بندې کړي؟ د دې پوښتنې ځواب دوه اړخه لري، له حقوقي پلوه هند نشي کولای په یوازې ځان یو نړیوال تړون لغوه یا وځنډوي او بیا د داسې تړون ځنډول چې نړیوال بانک یې ضامن او منځګړی وي. له تخنیکي پلوه بیا د دې پوښتنې ځواب دوه اړخه لري، لومړی دا چې په هغو موسمونو کې چې د اوبو کچه ډېره وي، هند بیا هم نشي کولای پر پاکستان اوبه بندې کړي، ځکه هند دومره تاسیسات نه لري چې دومره پراخې اوبه ذخیره کړي او دا به هندي اړخ ته د سیلابونو لامل شي، البته هند له درېیو لارو کولای شي چې له دغو اوبو څخه د وسلې په توګه ګټه واخلي او د پاکستان پرخلاف یې استعمال کړي:

۱- کله چې د اوبو کچه ټیټه شي، نو بیا هند کولای شي چې اوبه ذخیره کړي او پر پاکستان اوبه بندې کړي او دا به د پاکستان کرنې او اقتصادي ته سخته ضربه ورکړي؛

۲- په دغه سیمه کې د مې او جون په میاشتو کې سخت سیلابونه راځي او د تړون له مخې هند باید د سیلابونو معلومات له پاکستان سره شریک کړي، نو هند کولای شي چې اوس د دغو سیلابونو معلومات شریک نه کړي او دا کار به د دې لامل شي چې سیلابونه پاکستان ته سخته ضربه ورکړي؛

۳- هند کولای شي چې د خپلو تاسیساتو ختې پاکې کړي او له اوبو سره یوځای یې پر پاکستان ورخوشې کړي او دا کار به هم د هغوی کرنیزو ځمکو ته سخت زیان ورسوي.

د دې اوبو پر سر مخکې هم ناندرۍ او جنجالونه راپورته شوي دي. پاکستان د هند له لوري د دې سېندونو پر سر د اوبو برېښنا تولید او نورو تاسیساتو جوړولو ته په اشارې سره ادعا کوله، چې د اوبو بهیر به ورسره سوکه یا کم شي او په وینا یې دا له دې هوکړې سرغړونه ده.[6]

پاکستان د هند د دې پریکړو په غبرګون کې د ملي امنیت عالي شورا د شهباز شریف په مشرۍ راوبلله چې په کې لاندې پرېکړې ترسره شوې:

1. د دوه‌اړخیزو تړونونو ځنډول په ځانګړې ډول د شملا تړون؛
2. د واګې سرحدي لارې تړل او تر اپریل ۳۰مې پورې د تګ راتګ درول؛
3. د هندي وګړو لپاره د صادر شویو ویزو لغوه کول (پرته له سیک زیارت کوونکو) او د ۴۸ ساعتونو دننه د هغوی ایستل؛
4. د هند سفارت پوځي سلاکارانو ته امر شوی، چې تر اپریل میاشتې پورې له پاکستان څخه ووځي او د هند سفارت ته یې سپارښتنه کړې، چې د کارکوونکو شمېر ۳۰ تنو ته راکم کړي؛



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

5. پاکستان دغه راز د هند پر الوتکو خپل هوايي حرايم تړلی، له دغه هېواد سره يې د درېيم هېواد له لارې په ګډون هر ډول سوداګري درولې[7].

لنډه دا چې د پهلګام پېښه د هند او پاکستان په اړيکو ډېر منفي اغېزه کړې او د دواړو هېوادونو سياسي او اقتصادي اړيکې ورسره سختې زيانمنې شوي دي.

## ايا هند به پر پاکستان بريد وکړي؟

د هند او پاکستان د جګړې رامنځته کېدل دوه اړخه لري، يو د مخامخ او پراخې جګړې (Full Scale War) رامنځته کېدل دي او بل د هوايي بريدونو او په پوله د ځمکنيو عملياتو له لارې د ځانګړو هدفونو ويشتل دي.

د مخامخ او پراخې جګړې د رامنځته کېدو په اړه بايد ووايو چې د نړيوالو اړيکو يوه تيوري دا هم ده، چې دوه اټومي وسلې لرونکي هېوادونه هېڅ وخت هم له يو بل سره داسې مخامخ او پراخه جګړه نه کوي چې په هغې کې د اټومي وسلې په ګډون هر ډول وسله استعمال شي. هغه يوازينی اټوم چې د دويمې نړيوالې جګړې په وروستيو کې د جاپان په هيروشيما او ناګاساکي کې وکارول شو، هغه مهال جاپان اټومي وسلې نه درلودې (اوس يې هم نه لري). دا نظريه له دې ځايه منشاء اخلي، چې دولتونه هم د انسانانو په څېر عاقلانه چلند کوي او له همدې ځايه دوه هېوادونه چې د اټومي بريد په ځواب کې د اټومي غبرګون ښودلو وړتيا ولري، نو دا به هېڅکله هم د يو بل پرضد اټومي وسلې ونه کاروي. ځکه دا به دواړو لوريو ته تاوان ورسوي او دا به يې له يو ډېر ناوړه برخليک سره هم مخامخ کړي. دغه حالت د ډېټرينس په نامه يادېږي يعنې د باالمقابل دولت/لوبغاړي دا وړتيا چې تاسو له دا ډول کړنو راوګرځوي او دا وړتيا بيا د مخالف په لاسونو کې د اټومي وسلې د شتون او د اټومي بريد په ځواب کې د اټومي بريد کولو له وړتيا رامنځته کېږي.

له همدې ځايه، په هند او پاکستان کې دا تر ډېره د اجماع تر کچې رسېدلې، چې دواړه هېوادونه نه شي کولای چې په يوې بشپړې جګړه کې ننه شي او يا هم له يو بل سره اټومي جګړه وکړي؛ ځکه دواړه پر اټومي وسلو سمبال دي او دا به د دواړو په ګټه نه وي چې په دا ډول حادثو کې ننه شي. د سيپري (SIPRI) د ۲۰۲۰ز. کال د کلني راپور له مخې، پاکستان تر اوسه ۱٦۰ اټومي وسلې لري په داسې حال کې چې هند بيا ۱۵۰ اټومي وسلې لري.[8] د دې ترڅنګ، دواړه هېوادونه لري او منځنی واټن ويشتونکي توغندي هم لري چې دا بيا د يو بل د بشپړو او يا هم د يو شمېر برخو ويشتلو وړتيا لري. هېښوونکې لا دا ده، چې دا ډول توغندي له اټومي وسلو سره سمبالېدای هم شي. د بېلګې په توګه د پاکستان شاهين او حتف-٦ توغندي د هند ټولې سيمې او يا د ځينو برخو د ويشتلو وړتيا لري او هند بيا د آګني توغنديو يوه لړۍ لري چې په دې کې تر ډېره لرواټن لرونکي توغندي شامل دي چې دا هم بيا تر ډېره د ټول پاکستان برخې او يا هم د ځينو سيمو په نښه کولو وړتيا لري.[9] له همدې ځايه ده چې ويلی شو د هند او پاکستان ترمنځ د دغه اټومي ډېټرينس له کبله بشپړه جګړه يو ناشونی کار دی.[10] البته د دې امکان شته چې هند په

دې دلیل چې په پهلګام برید کوونکي د پاکستان په خاوره کې دي او د هغوی د له منځه وړلو په موخه د پاکستان پر ځینو سیمو هوایي او یا هم ځمکني لنډ مهاله بریدونه وکړي.

## پر افغانستان د دې شخړې اغېزې

د پهلګام پېښې په اړه د افغانستان اسلامي امارت غبرګون ښودلی او دغه پېښه یې غندلې ده، د بهرنیو چارو وزارت په اعلامیه کې راغلي: (د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت د جمو او کشمیر په پهلګام سیمه کې پر سیلانیانو برید غندي او په پېښه کې د وژل شویو کورنیو ته، د تسلیت مراتب وړاندې کوي. د افغانستان اسلامي امارت دغه ډول پېښې په سیمه کې د امنیت او ثبات په برخه کې یو ګواښوونکی عمل بولي.)[11] د بهرنیو چارو وزارت دا ډول اعلامیه په دوه دلایلو یوه ښه اعلامیه ده، لومړی؛ سره له دې چې په دې اعلامیه کې بېطرفي نقض شوې نه ده، ځکه پاکستان په دې پېښه کې لاس لرل رد کړي دي، خو د اعلامیې له محتوی داسې څرګندېږي چې هند پلوی دریځ په کې پیاوړی دی او موږ باید د توازن ساتلو ترڅنګ د پاکستان په مقابل کې د هند کارډ او د هند په مقابل کې د پاکستان کارډ لوبولو وړتیا ولرو. دویم دلیل دا چې څه موده مخکې هند هم د پکتیکا پر برمل د پاکستان برید غندلی و او د یاد برید په اړه د هند د بهرنیو چارو وزارت په اعلامیه کې راغلي وو: "موږ په افغانستان کې پر بې‌ګناه ملکي وګړو هر ډول برید په کلکه غندو او دا د پاکستان پخوانۍ تګلاره ده، چې د خپلو کورنیو ناکامیو پړه پر ګاونډیو اچوي". او د یو متقابل سیاست د تعقیب په برخه کې اسلامي امارت هم باید د هند په سیمه کې د بې ګناه ملکي وګړو وژنه غندلې وی او له همدې امله دا اعلامیه یوه مناسبه اعلامیه ده.

د هند او پاکستان ترمنځ د کړکیچ زیاتېدل او یا هم د جګړې رامنځته کېدل پر افغانستان منفي اغېزې لري په ځانګړي ډول د سوداګرۍ په برخه کې، ځکه د واګه پوله د افغانستان او هند ترمنځ د سوداګرۍ لاره هم ده. د شمېرو پر بنسټ افغانستان په کلني ډول تقریباً ۵۰۰ میلیونه ډالرو په ارزښت توکي هند ته صادروي چې ۸۰ سلنه یې د واګه پولې له لارې صادرېږي او د هند او پاکستان ترمنځ د اوسني کړکیچ له امله دغه پوله تړل شوې ده، نو هر څومره چې د دغې پولې تړل کېدل ځنډېږي په هماغه کچه افغانستان اقتصادي ضربه ګوري، د سوداګرۍ او پانګونې خونې د مدیره پلاوي غړی، خان‌جان الکوزی وایي: "موږ فوق العاده زیانمن شوي یو، په ځانګړې توګه د افغانستان وچې میوې برخه کې، اوس مهال بندرونه تړل شوي او ربښتیا هم ستونزې ډېرې دي. اوس مهال د وچو میوو وخت دی او وروسته له دې، یانې دوه میاشتې وروسته د تازه میوو وخت راځي. موږ هیله من یو چې تر هغې پورې دغه ستونزه حل شي او اوس مهال له بده مرغه زموږ سوداګري له هند سره له همدې لارې په بشپړه ډول دربدلې ده." همدارنګه د کابل د وچې مېوې د صادروونکو د ټولنې ویاند، خالد رحماني وایي: "د افغانستان د وچو میوو تر ټولو زیات صادرات د واګه-آتاري بندر له لارې هند ته واردیږي. د بدیلې لارې په توګه، هوایي دهلېزې او چابهار بندر شته، خو له بده مرغه د

چابهار بندر د زیربناو د نشتوالي له امله، د صادرونکو سوداګرو لپاره دا بندر په مؤثره توګه د استفادې وړ نه دی."[12] نو دغو واقعیتونو ته په کتو اسلامي امارت ته دوه کارونه وړاندیز کوو، لومړی؛ اسلامي امارت دې هڅه وکړي چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د کړکیچ په راکمېدو او د مستقیمې جګړې د مخنیوي به برخه کې د خپل وس په کچه هڅې وکړي تر څو دغه پوله پرانېستل شي او دویم دا چې د هند او پاکستان ستونزې دایمي دي او هر وخت د دوی ترمنځ د کړکیچ امکان شته، نو اسلامي امارت دې پر واګه پولې له هند سره د سوداګرۍ پر بدیلو لارو هم غور وکړي.

## پایله

د پهلګام وروستۍ پېښه د هند او پاکستان ترمنځ د کړکیچ د زیاتېدو لامل شوې ده، چې له امله یې هند د انډوس د اوبو تړون او پاکستان د شملې تړون ځنډولی دی، همدارنګه دواړو لوریو د یو او بل وګړو ته د وتلو امر کړی، دواړو لوریو د یو او بل په سفارتونو کې د ډیپلوماتانو د کمولو امر کړی دی. د پهلګام پېښې د هند او پاکستان پر اړیکو منفي اغېزه کړې او ان ترې دې چې د دواړو لوریو ترمنځ یې د مستقیمې جګړې ګواښ رامنځته کړی دی، خو د ډیټرنس تیورۍ په چوکاټ کې موږ ویلی شو چې د دواړو لوریو ترمنځ پراخه مستقیمه جګړه شاید ونشي. د دغو دواړو هېوادونو ترمنځ د کړکیچ له امله د واګه پوله هم تړل شوې او افغانستان پر دې پوله تقریباً د څلور سوه میلیونه ډالرو په کچه هند ته توکي صادروي، یعنې دې کړکیچ پر افغانستان هم منفي اغېزه کړې ده.

## وړاندیزونه

۱- د هند او پاکستان ترمنځ په اوسني کړکیچ کې د افغانستان په ګټه دا ده چې اسلامي امارت په دې شخړه کې بېطرفه بهرنی سیاست تعقیب کړي. په بهرني سیاست کې بېطرفي په دوه ډوله ده، یو دایمي یا حقوقي بېطرفي ده چې په اوسنیو او راتلونکو ټولو جګړو کې یو دولت ځان بېطرفه اعلانوي چې ښه بېلګه یې د سویس ده چې په ۱۸۱۵ز. کال کې د ناپیلون له جګړو وروسته یې اعلان کړه او دویم ډول یې لنډمهاله بېطرفي ده دا بېطرفي یوازې هغه مهال اعلانیږي کله چې دوه یا څو هېوادونه په خپلو کې جګړه پیل کړي. دا بېطرفي دایمي نه ده، یعنې مخکې له مخکې د راتلونکو ټولو جګړو په اړه نه اعلانېږي بلکې کله چې دوه اړخیزه یا څو اړخیزه جګړه پیل شي یوازې هماغه مهال یو هېواد پرېکړه کوي چې بېطرفه شي او په جګړه کې د هیڅ یو هېواد طرف ونه نیسي. د بېلګې په ډول په دویمه نړیواله جګړه کې د هسپانیې بېطرفي، یا په ۱۹۹۰- ۱۹۹۱ کالونو کې د فارس خلیج په جګړه کې د ایران بېطرفي،[13] نو اسلامي امارت ته په کل کې زموږ وړاندیز دا دی چې لنډمهاله بېطرفي د خپل بهرني سیاست جز وګرځوي او د همدغې پالیسۍ په تعقیب د هند او پاکستان

په اوسنۍ شخړه کې ځان بېطرفه اعلان کړي ځکه د افغانستان په څېر کوچنيو هېوادونو ته د لويو قدرتونو ترمنځ په شخړه کې طرف نيول په ګټه نه تماميږي.

۲- اسلامي امارت کولای شي چې د هند او پاکستان په شخړه کې د بې ګناه او ملکي وګړو وژنه وغندي او دا هيڅکله د بېطرفۍ د نقض په معنی نه دی، ځکه د ژنيو د نړيوالو کنوانسيونونو په رڼا کې په جګړه کې د ملکي وګړو وژنه د جګړې د قواعدو خلاف ده او اسلامي شريعت هم په جګړه کې د بې ګناه وګړو وژنه حرامه بللې، نو اسلامي امارت دې د اسلامي شريعت او نړيوالو قواعدو په رڼا کې د ملکي او بې ګناه وګړو وژنه وغندي، تر څو د جنوبي اسيا د يو غړي په توګه له دې حالاتو ناخبره ښکاره نشي.

۳- افغانستان د جمهوريت پرمهال د هند او پاکستان د سيالۍ ډګر و او له دې لارې افغانستان سخت زيان ليدلی دی، نو اسلامي امارت که داسې بهرنۍ سياست غوره کړي چې د هند او پاکستان ترمنځ په اړيکو کې توازن وساتي تر څو افغانستان يو ځل بيا د دوی د سيالۍ ډګر نشي، نو دا به د افغانستان په ګټه وي.

**سرچينې**

[1] https://zeenews.india.com/web-stories/india/indo-pakistan-wars-and-conflicts-a-complete-list-from-1947-to-2025-2891339.html

[2] RAJESH ROY and AIJAZ HUSSAIN, What to Know About India and Pakistan's Escalating Tensions in Kashmir, Time, Apr 25, 2025, Access link: https://time.com/7280374/india-pakistan-kashmir-pahalgam-terror-attack-tensions-history-escalations-explainer/

[3] https://www.bbc.com/pashto/articles/c9ve0e3g8j0o

[4] Mujib Mashal and Suhasini Raj, As Tensions Rise with Pakistan, a Moment of Truth for India's Military, April 26, 2025, The New York Times, Access link: https://www.nytimes.com/2025/04/26/world/asia/india-pakistan-military-kashmir-attack.html

[5] RAJESH ROY and AIJAZ HUSSAIN, What to Know About India and Pakistan's Escalating Tensions in Kashmir, Time, Apr 25, 2025, Access link: https://time.com/7280374/india-pakistan-kashmir-pahalgam-terror-attack-tensions-history-escalations-explainer/

[6] https://www.bbc.com/pashto/articles/cql674nqdq3o

[7] https://kabultelegraph.com/archives/21581

[8] "Nuclear Weapon Modernization Continues but the Outlook for Arms Control Is Bleak," SIPRI, accessed August 6, 2020, https://www.sipri.org/media/press-release/2020/nuclear-weapon-modernization-continues-outlook-arms-control-bleak-new-sipri-yearbook-out-now.

9 "Missiles of Pakistan," CSIS Missile Defense Project, CSIS, accessed August 6, 2020, https://missilethreat.csis.org/country/pakistan/; "Missiles of India," CSIS

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

Missile Defense Project, CSIS, accessed August 6, 2020, https://missilethreat.csis.org/country/india/.

[10] احمد بلال خلیل، د هند او پاکستان ترمنځ د وسلو کنټرول؛ فرصتونه او ننګونې، علومو اکاډمي، سیمه ییز مطالعات ژورنال، ۵۸مه ګڼه.

[11] https://mfa.gov.af/18570

[12] https://tolonews.com/pa/business-194065

[13] ARCHIE W. SIMPSON. Realism, Small States and Neutrality, E-International Relations, FEB 5 2018, P. 4. Access link: https://www.e-ir.info/2018/02/05/realism-small-states-and-neutrality/

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز نادولتي، غير انتفاعي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ لمريز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سيمه کې د پاليسيو د ارزونې او بډاينې لپاره فعاليت کوي.

**اړيکه:**

ايميل: info@csrsaf.org

وب سايت: www.csrsaf.org

شمېره: +93780618000 +93780618000